# رحمان بابا

رحمان بابا په (۱۰٤۲) هجري کي په يوه غريبه کورنۍ کي زېږېدلئ دئ، په قوم مهمند او د پلار نوم يې عبدالستار دئ. دی په (بهادر کلي) کي اوسېدئ. عبدالرحمان په خپله زمانه کي يو صوفي مشربه سړی وو. ډېر شعرونه يې ويلي دي.



د رحمان بابا شعرونه د خلکو ډېر خوښ دي، خلک دده په شعرو باندي پالونه اچوي. رحمان بابا په (۱۱۱۸) هجري کي مړ سوئ دئ.

رحمان بابا د دنيا کارونه نه کول. دی به تر يوې وني لاندي ناست وو او شعرونه به يې ويل چي د هغه کلي خلک تر اوسه پوري هغې وني ته د قدر په سترګه ګوري.

د رحمان بابا شعرونه ډېر ساده او اسانه دي. اخلاقي، ديني، اجتماعي او تصوفي شعرونه يې ويلي دي. دده د شعرو کتاب د ټولو پښتنو خوښ دئ او په لوړه سترګه ورته ګوري. د ده د شعر نمونه په لاندي ډول ده:

چي مــــدام د بــــل و عيبو تـــــه نــــظر کړي

خــداى د خپــله عيبـــــه ولي بې خبر کړي

کــه يـــوه جـــودانه عيب وينې په بل کښي

هغه یو جودانه عیب به یې لــوی غـــر کړې

کــــه دي خپــله ګنــــاه لـــویه لکه غر وي

پــه حیـــله حیـــله بـــه غـــر د مچ وزر کړې

که څوک تله د انصاف په لاس کښې در کړي

خـــپل تـــتو او د بـــل اس بـــه برابر کړې

تـــو لعنت دي پـــــــه دا هسې مــــنصفي شه

چـــې د حـــقه و بـــاطل و تـــه ګـــذر کړې

تـــا تـــه رب د مـــلایـــکو مـــقام در کـــړ

تـــا دا خپـــل صـــورت پخپله ګاو و خر کړ

که دي یـــو وبښتـــه د ځان د پاسه کوږ شي

ځـــان هغه ســـاعت لـــه خدایـــه مرور کړې

د ځوانـــۍ عمـــــر دي تېر کړ په غفلت کښې

پـــه پیري کې بـــه څـــه زیرمه د محشر کړې

پــه پـــیري کښې د ځـــوانۍ چاري نه ښایي

تـــه پـــه ورځ د عـــاشـــوري به څه اختر کړې

لـــکه بـــېخ د زړې ونـــې چـــینجي وخـــوري

پـــه دا تـــېر عمر بـــه څه ښاخ و ثمر کـــړې

دغــه بــاغ بـه دي خلاص نه شي له خزانـــه

کـه چاپـــېر ور ځني ســـد د سکندر کـــړې

و بــد خواوو تــه هيڅ ثوک نصيحت نـــه کا

«رحمان» ستا په غم شريک دئ که بـــاور کړې